**کلی ته ځم**

دمازدیگر لمر په لویدو وو،زه راورسیدم
بیا د پخی نه می خامی باندی قدم کیښود
هغه پوټۍ
هغه سپیره خاوره
هغه خړه سګه
هغه زیړه سګرونې
زما دکلی نښه
بیا دنغرو لوګی آسمان ته زینی پورته کړی
ورسره سم زما دکلی ها سرلوړی چنار
په باد نڅیږ ی
هرکلۍ می وایی.

ما دویالی غاړه راواخیسته، و کلی ته ځم

پنډه می نه ده درنده، لاس کی می یوه کڅوړه
په کی څه وچه میوه، یو چارک سری مڼې دی
کله نا کله می نظر په یو شنه بوټې لګی
یا خو اغزی یا غرواښه یا دمسواک یا سپیلنو بوټې دی
ها سره ګلان ها چه یی پیغلی تورو څڼو کی ږدی
په دی سپیره دښته کی په نظر نه لګیږی.

ما دویالی غاړه راواخیسته، و کلی ته ځم

دلمر لویدو و بدرګی ته
یوه ډله ځوانان
له کلی را وتلی
بیایی د سګو په بستر کی ځادرونه خپرولی
څوک به لمانځه ولاړ څوک ناست، څوک غزیدلی
څوک راته ځیر لاس په تندی، لکه چه ویی لیدم
بل یی هم لاس کړی راته پورته، لکه چه ویی پیژندم

په باد سپارلی سلامونه یی را ورسیږی.

ما دویالی غاړه راواخیسته، و کلی ته ځم

بیا په باغچو کی ماشومانو پټ پټانی غږ ده
بیا د چمبر له شا د تی انا توتی انا* سندری اوری
بیایی جوړ کړی دی ګردونه، پورته کیږی دوړی
لوڅی پښی، ببر سرونه ماشومانو د خوسی** په لوبه
ځوک را ناری کړی،
کاکا ستړی مه شی
ماما په خیر راغلی
بیا دلرګی په آس سپاره، آس ته یی پونده ورکړه.

ما دویالی غاړه راواخیسته، و کلی ته ځم

بیا دګدر په غاړه دپیغلو جمع وجوش ده
چا به منګی را اخیستی، چا و کالو ته بیا دبی اچولی
سترګی یی ماکی پاته، په ما به ټوکی کوی
زما سر ټیټ له حیا، خپل قدمونه شمارم
خو بیا په غلا ور ګورم
هغه غښتلی ترور به راته په مخه راشی
د شنی رشقی پنډه یی په سر، مال ته به شومه راوړی
بیا ها ستومانه ماما به په خنداشی راته
کره یی بیا په اوږه، له فصله کورته راځی
بیا په کوڅه کی سرګردانه دوړی
وایی دشپانه رمه هم ګده شوه په کلی.

ما دویالی غاړه راواخیسته، و کلی ته ځم

دسقاوی له مخه بیا د سپین ږیرو مجلس
ستړی ستومانه اوداسه نه راشی
بیا د جومات په دیواله باندی تکیه ولګی
ځوک لاس او مخ وچوی په بادام ګلی رویمال

ځوک خپل سنت جوړوی، په زړه پڅه بیاتی
ها دنسوارو د دبلی آینی کی
ځوک دځوانی په لټه.

ما دویالی غاړه راواخیسته، و کلی ته ځم

ویاله هم وچه شوله، دکلی پای ته راغلم
جانانه ستړی مه شی، آشنا په خیر راغلی
چا راته و نه ویل
زما د دا هری شپی دخوب به ځوک تعبیر وباسی
بیا می زیادت شی دغمونو خزانی کی غمیٔ
په تا چا زیریٔ زما د راتگ و نه کړ.

**ع. بهرام**

* تی انا توتی انا: دماشومانو سندره دباران د اوریدو دپاره
** خوسی: دماشومانو یوه لوبه، ورته غورسی هم وایی.